د لوړو زده کړو د مفرداتو سره سم د تجوید پر اصولو برابر، د
پوهنتونونو د لومړي سمستر لپاره درسي کتاب.



د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
پکتیا پوهنتون

## د محصل لپاره

# تجوید




ترتیب کوونکی: استاد عصمت الله وفادار

مُهتمم : جامعه نبیُ الوری گردیز ذکور اناث



چاپ کال: 2023 ۱۴۰۲ ۱۴۴۵ محرم

# ډالـــــــۍ

زما مرحوم پلار حاجي کرامت خان دانش یار ته، چې زما په مادي او معنوي روزنه کې یې خپل وجود خاورې کړ.

پر ګور یې رحمت او جنت یې ځای شه.

او بل د افغانستان اسلامي اِمارت ټولو هغو سپېڅلو مجاهدینو ته هم ډالۍ وي چې په ۲۱ پېړۍ کې یې په معجزانه ډول د الله ج په نصرت د جمهوریت او ډیموکراسۍ ټغر ور ټول کړ، او موږ ټولو ته یې د اسلامي نظام تر چتر لاندې د ژوند کولو ویاړ راوبانښه او عزتمند یې کړو.

استاد عصمت الله وفادار

یا الله جل جلاله توفیق درڅخه غواړم، او راڅخه قبول یې کړه. د دنیا، قبر او د اخرت له عذابونو څخه نجات راکړې. آمین

# مقدمه ( سریزه )

لکه څرنګه چې د تجوید علم، شرافت او ارزښت اظهر من الشمس ( له لمر څخه ښکاره ) ده. خو له بده مرغه د ګران هېواد افغانستان په مراکزو کې ( هغه که مدارس دي، مکاتب دي او که پوهنتونونه دي )، څنګه چې په کار یا لازمه ده هغسې پاملرنه نه ده ورته شوې، چې باید وشي. ځکه خو زموږ اکثرو عوامو تر څنګه خواص هم هغه که علماء کرام دي، قاریان دي او که حافظان دي له زیاتو مشکلاتو سره مخ دي چې داسې باید نه وي. که موږ او تاسو د نورو علومو د ترلاسه کولو لپاره ۱۰ یا ۱۲ کاله  وخت لګوو، نو د تجوید د علم زده کړې لپاره هم باید شپږ میاشتنی یا یو کلن پروګرام کې وخت تېر کړو، نو دابه څومره نیکمرغي وي او د کتاب الله کما حقّهُ حق به مو ادا کړی وي. نو بناً راځم دې ته چې ما ولې د تجوید علم د زده کړې لپاره دغه کوچنی رساله ترتیب کړله.

کله چې ما پکتیا پوهنتون طب پوهنځي کې په ۱۴۰۱ هـ.ش کال کې د افتخاري استاد په توګه داسلامي ثقافت د همه شموله مضامینو تدریس کاوه، نو تجوید علم لپاره مې داسې کتاب پیدا نه کړ چې هغه دې د لوړو زده کړو وزارت د مفرداتو سره سم مرتب شوی وي، نو ما هم هڅه وکړله چې د همدغو موجوده تجویدي کتابونو څخه چې په مأخذ کې ذکر شوي دي په ګټې اخیستنې سره یو کوچنی کتاب ولیکم البته په یو څه اختصار سره. دا کوم نوی کتاب نه ده، بلکې د مفرداتو سره سم ترتیب کوونه ده.

که څه هم ددې کتاب لپاره ما د ( تجوید د محصل ) لپاره نوم غوره کړ، خو باوري یم چې د هر تعلیمي مرکز لپاره که هغه مدارس دي، مکاتب دي او که کورسونه دي د ټولو لپاره ډېر اسانه او د فهم وړ دي.

 فطرتاً انسان کمزوری پیدا شوی دی، که کوم ځای کې غلطي یا نیمګړتیا په نظر درغله نو حتماً په خبرولو کې راسره همکاري وکړئ، دا به ستاسو لطف او مهرباني وي. له ټولو مسؤلو اشخاصو څخه یوه هیله لرم که چېرته کېده او امکان یې درلود، نو دغه کتاب دې په تعلیمي نصاب کې شامل شي او یا دې په تعلیمي مراکزو کې له عملي اجراء سره تدریس شروع شي، انشاءالله چې فایده به یې ډېره وي.

په پای کې له هغو اشخاصو څخه د زړه له تله مننه کوم چې ددې کتاب په سرته رسولو او مشوره کولو کې یې راسره مرسته کړې ده، لکه هر یو؛ قاري مفتي سعیدالله سعیدي، قاري شفیع الله مؤمن، الحاج قاري توریالی تائب، قاري ذبیح الله عصمتي، قاري میر ضیاءالرحمن فاروقي، قاري محمد نسیم علمي او قاري سمیع الله دانشمند څخه.

ځانګړې مننه له محترم نعمت الله پانوس څخه چې ددې کتاب کمپوز او د لیکلو چارې یې مخ ته یوړلې.

ستاسو ورور استاد عصمت الله وفادار

مهتمم مدرسه نبیُ الوری' للبنین و للبنات ګردیز

WhatsApp: +93773186847

۱۴۴۴ / ذوالقعده / ۱۶ هـ.ق

۱۴۰۲ / جوزا / ۱۵ هـ.ش

۲۰۲۳ / ۶ / ۵ / م

دوشنبه

# تقریظونه

پکتیا ولایت مقام



والي صاحب

۱۴۴۳/۱۱/۲۴ هـ ق

نحمده ونصلي على رسوله الكريم اما بعد:

د افغانستان اسلامي امارت د پکتیا ولایت والي جناب الحاج ملا محمد خان "دعوت" صاحب ته تجدید نظر وروسته تائید شو ده.

جناب دعوت صاحب
پکتیا ولایت والي

پکتیا معارف ریاست



بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی سیدنا محمد ن المصطفی وعلی اله واصحابه الی یوم الجزاء -

امابعد: د ښاغلي محترم ورور قاري صاحب عصمت الله «وفادار» د حضرت بلال رض او نبي الورا د مدرسې مهتمم د ښکلي تصنیف چې د تجوید د محصل لپاره چې ده ی مسلی ده څه اندازه چې ما وکوت او مطالعه مې کړ ډېر ارزښتناکي موضوعات د تجوید په اړه پکې درج دي ماشاء الله لاحول ولا قوة الا بالله

۱۴۴۴/۸/۴

الحاج قاري محمد قسیم رحماني
پکتیا معارف ریاست اسلامي تعلیماتو مدیر

پکتیا حج او اوقافو ریاست



همدغه رنګه د ارشاد حج او اوقافو ریاست لخوا نه چې کوم هیڅ کوم نوع علمي شرعي مشکل نلرل چې کتوونکي د فیض القرآن مدرسې استاد د قاري صاحب همایون "محمدي" او د ارشاد او دعوت مدیر قاري صاحب رفیع الله "حبیبي" وو تا سو ته اطمینان ورکړل شو.

والسلام

الحاج مفتي عبدالستار "سید ت"
د ارشاد حج او اوقافو رئیس

پکتیا پوهنتون شرعیاتو پوهنځی



بسم الله الرحمن الرحیم:

الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی —

اما بعد:

لکه څرنګه چې دا معلومه مشهوره مسئله ده چې علم التوجید فرض کفائي او عمل بالتجوید فرض عین دي پر هر مکلف عاقل بالغ مسلمان باندې قرآن عظیم الشان د تجوید د قواعدو موافق تلاوت لازمي خبره دی د تعمیل لپاره د قاري صاحب عصمت الله کتاب چې (د محصلینو لپاره تجوید) نومیږي یو غوره او ښه کتاب دي چې د محصلینو او زده کوونکو لپاره مفید او ګټور دي الله تعالی د محترم قاري صاحب دا کتاب صدقه جاریه او د محصلینو او زده کوونکو لپاره مفید وګرځوي آمین یارب العالمین

محمد اکبر فضلي د حادیثو خادم
د پکتیا پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي رئیس

یادونه: که د هرې مسئلې شرح حواله ذکر شي ښه به وي
۲ په راتلونکو ټوکونو کې مرتبه تفصیل وشي



بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لأهله والصلاة على اهلها اما بعد:

د محترم قاري صاحب عصمت الله کتاب تر کومه ځایه چې ما مطالعه کړ انشاء الله د محصلینو لپاره به زیات مفید وي محترم قاري صاحب ته مبارکي وایم خدای دې نور د کار اجر ورکړي

وصل الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی اله واصحابه اجمعین

محمد عمر فضلي د پکتیا پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاد

# لــومــړی اونـــۍ

## تــجــویــد پــېــژنــدنــه ( لغوي او اصطلاحي تعریف)

**تجوید په لغت کې:** ( تَحْسِنُ الشیْٔ) د یو شي ښایسته کول، ښه کول او کره کولو ته وایي.

**تجوید په اصطلاح کې:** ( التَجْوِیْدُ هوَ اَدَاءُ الْحُرُوفِ مِنْ مَخَارِجِهَا الْخَاصَةِ لَهَا مَعَ جَمِیعَ صِفَاتِهَا الْلَازِمَةِ وَالْعَارِضَةِ بِسَهُولَةٍ وَمِنْ غَیْرِ كُلْفَةٍ.)

یعنې: ټول قرآني حروف د خپلو مخارجو او ټولو صفاتو سره بې د تکلیف څخه په اسانۍ سره اداکولو ته تجوید وایي.

## د تلاوت اداب

د تلاوت څخه مخکې تعوذ او تسمیه ویل چې په عام ډول دری حالتونه لري، یو حالت یې په سورة براء دی.

قرانکریم د تلاوت اداب دادي:

۱:چې په اوداسه سره به وي

۲: مسواک وهل

۳: په ښه لهجه او ښکلي آواز سره لوستل څکه ښایسته آواز د الله جل جلا له د نعمتونو څخه دی. خو د سندرو په شکل او طرز ویل، یا د یو سندرغاړي څخه د آواز نقل کول د قرانکریم بې حرمتي او بې عزتي ګڼل کېږي.

## تجوید موضوع او غرض (هدف)

**د تجوید موضوع**: د هیجا توري دي چې د( الف څخه تر یا) پورې ټول ۲۹ داني دي. له الف څخه بغیر پاتې ۲۸ واړه حروف محقق مخرج لرونکي دي، په دوو عمومي برخو وېشل شوي دي. ۱۵ داني یې د اخفاء توري او ۱۳ داني یې د اظهار توري دي جې عبارت دي له؛

**اخفاء توري**: ( ت ث ج د ذ ز س ش ص ض ط ظ ف ق ک)

**اظهار توري:** ( ء ه ع ح غ خ ی ر م ل و ن ب)

له دغو ۲۹ حروفو څخه مرکب الفاظ جوړ شوي، بیا ایتونه، بیا سورتونه او بیا ټول قرانکریم مرتب شوی دی.

**د تجوید غرض ( هدف):**

(صُوْنُ الِسَانِ عَنِ الْخَطَاءِ فِی اَدَاءِ الْقُرْانِ وَ قِرْاءِةِ الْقُرْانِ بِالْطّرِیقَةِ الْمَسْنُونَةِ)

یعنې: د قرانکریم له غلطو لوستلو نه خپله ژبه ساتل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسنونه طریقه یې تلات کول. یعنې د تجوید د احکامو د لوستلو وروسته باید قرانکریم داسې ولوستل شي جې د الله تعالی جل جلا له لخوا نازل شوی دی.

## تجوید ډولونه او حکم

تجوید په دوه ډوله دی: ۱ نظري. یا علمي تجوید ۲ عملي تجوید

**۱: نظري يا علمي تجويد**: د تجويد کتابونه او قواعد تفصيلاً زده کول فرض کفايي ده.

**۲: عملي تجويد:** هغه دی چي قرانکريم په هغه ډول تلاوت شي څنګه چي د پيغمبر صلی الله علیه وسلم نه را نقل شوی دی. او په هر مسلمان فرض عين دی.

## د تجويد حکم:

علمي تجويد فرض کفايي ده او عملي تجويد فرض عين ده؛ ځکه الله جل جلا له فرمايي: ( وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلاً) مزمل. ترجمع: قرآن ښه په کراره، څرګند او صاف لوله. د دغه ايت تفسير بيضاوي داسي کوي: ( جَوِّدِالْقُرانَ تَجْوِيْدًا) يعني قرآن په تجويد سره ولولئ.

بل ځای کې الله جل جلا له فرمايي: ( الَّذِيَنَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلاوَتِهِ أُولَئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ { بقره ۱۲۱} ). ژباړه: چاته مو چي کتاب ورکړی، څنګه چي ښايي هغسي يې لولي، همدوی ايمان پرې راوړی.

**حديث:** رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: ( اِنَّ اللہ يُحِبُّ اَنْ يُقْرَا الْقُرْانَ كَمَا اَنْزِلَ).

**ژباړه:** الله تعالی جل جلا له خوښوي چي قرانکريم په داسي توګه ولوستل شي څنګه چي نازل شوی.

او ملا علي قاري رحمه الله : په دې خبره کې ټول عالمان په يوه خوله دي چي د تجويد علم فرض کفايي دی او عمل کول وربانديې فرض عين دي. (معلم التجويد)

## د تجويد ارزښت او اړتيا

قزانکريم الله تعالی جل جلا له په عربي ژبه را نازل کړی دی، نو د قرانکريم د صحيح لوستلو لپاره عربي ژبې زده کړه او د هغې لهجه په صحيح توګه ادا کول تر ټولو مهم دي.

که د عربو په ډول حرف ونه ويل شي، نو د قرانکريم توري به په پوره توګه ونه لوستل شي يا به د ايت معنا بدله شي. لکه: قُلْ= ووايه او کُلْ= وخوره، قَلْب= زړه او كَلْبُ= سپی، خَلَقَ= پيداکړي دي او حلق= خريلي دي. دا هغه نيمګړتياوې دي چې له امله يې معنا بدليږي او لمونځ پرې فاسديږي.

# تجويد ارکان

## د تجويد ارکان څلور دي

1: د حروفو مخارج پيژندل

۲: د حروفو صفات پيژندل

۳: د تحويد ټول قواعد پيژندل

۴: د صحيح لوستلو کوشش کول

**مشق مع الحفظ**

سورت الاخلاص سورت الفلق سورت الناس

## د لومړۍ اونۍ پای

# دوهــمـــه اونـــۍ

## لحن ( تېروتنه ) غلطي، خطايي

لحن په لغت کې خطايي ته وايي. او په اصطلاح کې ټول قرآني حروف د تجويد د قواعدو خلاف او غلط تلفظ کولو ته لحن وايي.

**لحن په دوه ډوله دی. ۱: لحن جلي ۲: لحن خفي**

## ۱: لحن جلي

په لغت کې غټې او ښکاره غلطي ته وايي. او په اصطلاح کې د حروفو مخارجو، صفاتو او حرکاتو سکناتو کې غلطي کولو ته وايي.

## لحن جلي په څلور ډوله دی

**۱: يو حرف په بل حرف کې بدلول:** لکه؛ اَلِیم= دردونکی او عَلِیم_ پوه، عَسَی = هیله کول او عَصَی = نافرماني کول، الحمد= الهمد

**۲: يو حرف زياتول:** لکه؛ نَصَرَ= هغه کومک وکړ او نَصَرَا = هغوی دواړو کومک وکړ.

**۳: يو حرف کمول:** لکه؛ قَالَا = هغوی دواړو ويل او قَالَ = هغه ويل، لَمْ يولد، لم يلد.

**۴: حرکات سکنات بدلول:** لکه؛ ساکن متحرک کول، مخفف مشدد کول، زبر زير او پيش بدلول. مثلاً؛ اَنْعَمْتَ = تا انعام کړی دی او اَنْعَمْتُ = ما انعام کړی، بَلَّغَ = هغه تبليغ وکړ او بَلَغَ = هغه ورسيد، اَرْسَلْنَا = موږ لیږلي وو او اَرْسَلَنَا = موږ هغه رالیږلي يو.

**۲: لحن خفي**

په لغت کې پټې او وړې غلطي ته وايي. او په اصطلاح کې د حروفو د تحسين او ښکلا په صفاتو کې کمی او يا زياتی کول، يا صفات عارضي څخه کوم صفت پاتې شي. لکه؛ اخفاء، اظهار، اقلاب، ادغام، غنه، ډک او تش توري سم نه آدا کول لکه؛ رُبما کې را تشه ويل.

## د لحن حکم

**لحن جلي حرامه ده.** ځکه چې اکثره وختونه د داسې الفاظو معنی مراد د الله تعالی جل جلاله د مراد څخه خلاف وي، چې انسان په کبيره ګناه اخته کړي.

**لحن خفي مکروه ده.** ځان ساتل ترې ضروري دي، خو خواصو لپاره لحن خفي هم حرامه ده.

**مشق مع الحفظ**

**سورت الکافرون　　سورت النصر　　سورت الصمد**

**د دوهمې اونــۍ پــای**

# درېـــمـــه اونـــۍ

## د تلاوت پیل او صورتونه ( جزئیات ) یې

### د تعوذ او تسمیه په اعتبار: څلور حالتونه لري

۱ **حالت:** د تلاوت شروع د سورت د پیل څخه اعوذ باالله او بسم الله دواړه ضروري دي.

۲ **حالت**: د تلاوت شروع د سورت له منځ څخه اعوذ باالله ویل ضروري ده او بسم الله ویل اختیاري ده.

۳ **حالت:** که یو سورت ختم شي بل سورت غواړې شروع کړې نو یوازې بسم الله ویل کافي ده.

۴ **حالت:** د تلاوت په جریان کې به د سورت توبې یا براء په شروع کې بسم الله نه ویل کیږي.

### د فصل او وصل په اعتبار سره: جدا ویل، یوځای ویل

۱ **: فصل کُل**: چې اعوذ باالله، بسم الله او سورت درې واړه په جدا جدا ساه وویل شي.

۲ **: وصل کُل:** چې اعوذ باالله، بسم الله او سورت درې واړه په یوه ساه ولوستل شي.

۳ **:** فصل اول وصل ثاني: یعنې اعوذ باالله ځان ته وویل شي او بسم الله او سورت یوځای وویل شي.

۴ **:** وصل اول فصل ثاني: یعنې اعوذ باالله او بسم الله یوځای ویل او سورت ځان ته وویل شي.

په بسم الله کې هم فصل کُل او وصل کُل موجودي جائیز ده. ( استاد یې باید تشریح کړي)

**مشق مع الحفظ**

**سورت القریش        سورت الماعون        سورت الکوثر**

**د درېـــمـــې اونـــۍ پـــای**

# څـــلـــورمـــه اونـــۍ

## د غاښونو نومونه

د یو بالغ انسان په خوله کې دوه دېرش ۳۲ غاښونه وي. چې دولس غاښونه او شل داړې دي. لاندې یې په تفصیل سره بیانوو.

| شمېره | عربي نوم | شمېر يي | |
|---|---|---|---|
| ۱ | ثنایا | څلور | متصل - یوځای |
| ۲ | رباعي | څلور | څلوریزه – څلور |
| ۳ | انیاب | څلور | څوکه لرونکي |
| ۴ | ضواحک | څلور | خند یدونکي |
| ۵ | نواجذ | څلور | عقل پوره کونکي |
| ۶ | طواحن | دولس | میده کول او ژوول |
| | مجوعه | ۳۲ | ۳۲ |

| نوټ |
|---|
| د ژبې په مخارجو کې یوازې پاسني غاښونه استعمالیږي. بغیر له ثنایا سفلی څخه. |

**ثنایا:** مخامخ څلور غاښونو ته ویل کیږي.

**رباعي:** د ثنایاوو دواړو طرفونو ته موقعیت لري.

**انیاب:** د رباعیو دواړو طرفونو ته موقعیت لري.

**ضواحک:** د انیابو دواړو طرفونو ته موقعیت لري.

**نواجذ:** د ضواحکو دواړو طرفونو ته موقعیت لري.

**طواحن:** د نواجذو دواړو طرفونو ته موقعیت لري.

**یادونه:** ضواحک، نواجذ او طواحن ته اضراس هم ویل کیږي چې کامل کوونکي د عقل دي.

**مشق مع الحفظ**

**سورت العصر　　سورت الهمزة　　سورت الفیل**

**د څـــلـــورمـــي اونـــۍ پـــای**

# پـــیـــنـــځـــمـــه اونـــۍ

## حروف او مخارج يې: جزیات

### حرف

حرف په لغت کې اړخ یا کناري ته وايي. او په اصطلاح کې هغه غږ ته ويل کېږي چې په محقق یا مقدر مخرج ودرېږي.

### مخرج

مخارج يې جمع ده، په لغت کې د وتلو یا آدا کولو ځای ته وايي. او په اصطلاح کې د حرف د آدا کولو ځای چې آواز پرې ودرېږي.

**مخارج څومره دي؟**

خلیل ابن احمد فراهیدي رحمه الله په نزد مخارج ۱۷ اوولس دي، د جمهورو قاریانو په نزد هم همدا غوره مذهب دی. د امام سیبویه رحمه الله په نزد مخارج ۱۶ دي، او د امام فراء رحمه الله په نزد مخارج ۱۴ دي.

**د مخارجو اصول پنځه ۵ دي**

**۱:** حلق **۲:** ژبه **۳:** شونډې **۴:** جوف **۵:** خیشوم- ( تکلم اعضاء)، ( احمد تلاوت کوي).

**یادونه:** غاښونه د ژبې په مخرج کې ور شامل دي.

### د مخارجو ډولونه

**۱: محقق مخرجونه** **۲: مقدر مخرجونه**

**۱: محقق مخرجونه:** کله چې د کوم حرف آواز په حلق، ژبه یا شونډو په کوم خاص جز کې راشي، نو دې ته محقق مخرج وایي.

د ( الف) نه پرته باقي ۲۸ حروف محقق مخرج لري چې له ۱۵ مخرجونو څخه آدا کېږي.

**۲: مقدر مخرجونه:** کله چې آواز د حلق، ژبې او شونډو څخه بغیر د خیشوم او جوف دهن څخه راووځي، نو دې ته مقدر مخرج وایي.

دوه مخرجونه لري. یو جوف دهن چې درې داني حروف مده ترې آدا کېږي، او یو مخرج په خیشوم کې ده چې غنه او اخفاء صفت ترې آدا کېږي.

### عربي حروف ۲۹ دي نو مخرجونه يې ولې ۱۷ دي؟

ځکه چې له ځینو مخرجونو څخه دوه یا درې حروفونه هم آدا کېږي. لکه؛ وسط السان مخرج یو او حروف پکې درې دي ( ج ی ش).

عام مخرجونه پنځه ۵ دي او خاص حروفونه ۱۷ دي، لاندینی جدول وګورئ.

| | شمېره | نوم | مخرجونه | حروف |
|---|---|---|---|---|
| محقق مخرجونه | ۱ | حلق ( ستوني) | ۳ | ۶ |
| | ۲ | لسان ( ژبه ) | ۱۰ | ۱۸ |
| | ۳ | شفتین ( شونډې ) | ۲ | ۴ |
| مقدر مخرجوننه | ۴ | جوف ( خالیګاه ) | ۱ | ۳ |
| | ۵ | خیشوم ( پزې اخېر ) | ۱ | ۲ |

## تشریح

## ۱ اصل

حلق، ستوني یا مرئ کې درې مخرجه دي.

**۱:** اقصی حلق ( ء ه ) د ستوني اخیر سیني ته نږدې.

۲:: وسط حلق ( ع ح ) ستوني منځ په نرمي سره.

**۳:** ادنی حلق ( غ خ )ستوني سر خولې نه نږدې، په ډک ډول سره.

چې شپږ حروف پکې دي. ( ء ه، ع ح، غ خ ).

## ۲ اصل

لسان یا ژبه کې لس ۱۰ مخرجه او ۱۸ حروف دي.

**۱: د "ق" مخرج:** هر کله چې د ژبې بېخ پورته تالو ته د حلق لوري ته لوړ شي او وړې ژبې یا لهات سره په کلکه ولګیږي. لکه؛ قَالَ...

**۲: د "ک" مخرج:** هر کله چې د ژبې بېخ پورته تالو ته د خولې طرف ته لوړ شي او وړې ژبې یا لهات سره په کلکه ولګیږي. لکه؛ لَکَ...

ق او ک ته حروف لهاتیه یا د وړې ژبې حروف وایي.

**۳: وسط السان یا د ژبې منځ مخرج:** کله چې د ژبې منځ له پورتني تالو سره ولګیږي نو ج ی ش ( جیش) حروف ترې آدا کیږي، دې ته حروف شجریه وایي ( ج ی ش ).

**۴: حاقة السان مخرج:** کله چې د ژبې اړخ او طرف ښي یا چپ طرف د پورته ژامې سره ولګیږي ( چپ طرف اسان ده) نو ض آدا کیږي. لکه؛ مَرَضًا – نَضْرَةً دې حرف ته مخرج په اعتبار حافیه ویل کیږي.

**۵: په طرف السان کې د " ل " مخرج:** کله چې د ژبې دواړه طرفونه د وریو ښخه پورته تالو سره ولګیږي نو د "ل" مخرج ترې آدا کیږي. لکه؛ قَالَ، اَلَمْ...

**۶: په طرف السان کې د "ن" مخرج:** کله چې د ژبې طرف د ثنایا، رباعي او انیاب وریو سره ولګیږي نو د "ن" حرف ترې آدا کیږي. لکه؛ کَانَ، مِنْ...

**۷: په طرف السان کې " ر " مخرج:** کله چې د ژبې طرف شا برخه د پورته تالو ثنایا او رباعي وریو سره ولګیږي نو "ر" آدا کیږي. لکه؛ اَرْسَلَ، خَسِرَ...

دغو دریو حروفو ( ل ن ر ) ته د مخرج په اعتبار طرفیه او زلقیه ویل کیږي.

**۸: په راس السان کې د " ط، د، ت " مخرج:** کله چې د ژبې سر د ثنایا علیا د بېخ سره ولګیږي نو له دې څخه د " ط، د، ت" حروف آدا کیږي او فرق یې بیا په صفاتو سره کیږي. لکه؛ طَبَعَ، غَنَتَ، فَقَدْ، قَدَرَ...

دې حروفو ته د مخرج په اعتبار نطعیه یا د وریو حروف ویل کیږي.

**۹: په راس السان کې د " ظ، ذ، ث " مخرج:** کله چې د ژبې څوکه د ثنایا علیا له څنډې سره ولګیږي نو له دې څخه " ظ، ذ، ث " آدا کیږي. لکه؛ نَظَرَ، وَاِذَا، ثبورًا...

دې حروفو ته د مخرج په اعتبار سره لِثویه یا نرم حروف ویل کیږي.

**۱۰: په راس السان کې د " ص، ز،س " مخرج:** کله چې ثنایا یا علیا او ثنایا یا سفلی سره وجنګیږي او د ژبې سر ورسره ولګیږي. لکه؛ صُحُفِ، اُنْزِلَ، خسوف...

دې حروفو ته د مخرج په اعتبار سره حروف صفیریه یا طوله دار یا شپیلۍ دار ویل کیږي.

## ۳ اصل

په شونډو یا شفتان کې دوه مخرجه دي

**۱: " ف" مخرج:** چې مشترک مخرج هم ورته وایي، کله چې د ثنایا علیا څنډې له لاندینۍ شونډې سره ولګیږي او پوکی بهر راووزي نو " ف " آدا کیږي. لکه؛ فَلَاحْ...

**۲: د " و، ب، م " مخرج:** (و) کله چې دواړه شونډو څخه دایروي شکل جوړ شي. د (ب) حرف د شونډو د لمدو برخو څخه آدا کیږي. او د (م) حرف د شونډو له وچو برخو آدا کیږي.

دغو څلورو حروفو ( ف، و، ب، م ) ته حروف شفویه وایي.

## ۴ اصل

**جوف دهن:** د خولې خالیګاه یو مخرج او درې صفته پکې دي. الف مده، واو مده او یا یې مده ترې آدا کیږي.

**الف مده:** چې الف څخه مخکې زبر وي، یو الف اندازه کش کیږي، بلندیږي. لکه؛ وَمَا قَالَ...

**واو مده:** چې و^ ساکن څخه مخکې پیش وي، مستقیم کش کیږي. لکه؛ جُوْ، یَقُوْلُ...

**ی یې مده:** چې ی ساکنې څخه مخکې زیر وي، لاندې کش کیږي. لکه؛ خِیْ، چِیْ...

دغو حروفو ته د مخرج په اعتبار ( جوفیه، هوائیه، او مده ) ویل کیږي.

**یادونه:** په عربي ژبه کې زبر ته فَتْحَه، زیر ته کَسْرَه او پیش ته ضمه ویل کیږي.

## ۵ اصل

**خیشوم:** د پوزې نل یا نرۍ رګ یا پرده او یا هډوکي ته ویل کیږي. له دې څخه " م او ن " یا اخفاء او غنه آدا کیږي، چې وروسته به تشریح شي.

د مخارجو په اعتبار د حروفو لقبونه لس ۱۰ داني دي:

**۱: حروف حلقیه:** ( ء ه، ع ح، غ خ) مرئ حروف.

**۲: حروف لهاتیه**: ( ق، ک) وړې ژبې حروف.

**۳: حروف شجریه جیش:** ( ج، ی، ش) چې د منځنی ژبې حروف دي.

**۴: حافیه:** د ژبې د څنگ غاړه چې ( ض ) استطالت حرف ترې آدا کیږي.

**۵: طرفیه:** د ژبې طرف یعنې د ژبې سر څخه لږ پورته چې ( ل، ن، ر) ترې آدا کیږي.

**۶: نطعیه:** نطع وریو یا وړو وړو کندو ته ویل کیږي او د ( ط، د، ت) ترې آدا کیږي.

**۷: لِثویه، یثه یا نرم حروف:** چې ( ث، ذ، ظ) ترې آدا کیږي.

**۸: صفیریه یا اسلیه، طوله دار او یا شپیلی دار:** د مرغانو آواز په شان چې ( ص، ز، س) ترې آدا کیږي.

**۹: شفویه:** شف شونډو ته وایي، څلور حروف ( ب، ف، م، و) ترې آدا کیږي.

**۱۰: جوفیه یا مده:** درې داني مده حروف ترې آدا کیږي.

**یادونه:** د حرف د مخرج د معلومولو آسانه طریقه.

حرف ساکن کوو او همزه پرې داخلوو چې آواز قطع شو نو هغه یې مخرج ده لکه؛

اَجْ، اَبْ، اَسْ، اَنْ

**مشق مع الحفظ**

**سورت القارعة سورت التکاثر**

# شـــپـــږمـــه آونـــۍ

## د حروفو صفات

**د صفاتو تعریف:** د صفت جمعه صفات دي، حالت او کیفیت ته وایي. او په اصطلاح کې د هر حرف د خپل مخرج څخه د آدا کولو په وخت کې که کوم کیفیت یا حالت پیدا کیږي هغه صفت ده.

لکه؛ د یو حرف ډک ویل د بل تش ویل، سخت ویل او نرم ویل، شپیلی دار ویل او په آواز کې جټکه یا تمبول، دا ټول صفات دي.

د صفاتو او مخارجو مرتبه داسې ده لکه په انسان کې چې د زړه او دماغو ده. په علم تجوید کې د مخارجو او صفاتو علم زده کول ډېر ضروري ده.

### د صفاتو ګټې یا فایدې

**۱:** د کومو حروفو چې مخارج یو ډول دي، د صفاتو له امله د هغوی ترمنځ تمیز یا فرق پیدا کیږي. لکه؛ که استعلا نه وی نو د ( ت او ط، ذ او ظ، س او ص) ترمنځ فرق نه کېده.

**۲:** د صفاتو له امله حرف ته ښکلا وربښل کیږي.

### صفات په دوه ډوله دي

**۱: لازمي صفات** **۲: عارضي صفات**

### لازمي صفات په دوه ډوله دي

**متضاد صفت** **غیر متضاد صفت**

**اول د صفاتو لازمه او عارضه وو ترمنځ ځینې فرقونه واضح کوو.**

صفات لازمه کې غلطي ته لحن جلي وایي او په عارضه کې لحن خفي وایي.

### ۱: صفات لازمه

هغه صفات چې په حروفو کې په هر حال موندل کیږي. که چیرې دغه صفات آدا نه شي، نو حرف به په خپل حال پاتې نشي، بلکې په دویم حرف به بدل شي یا به ناقص شي.

**یادونه:** صفات لازمه ته ذاتیه، ممیزه او مقومه ویل کیږي.

ذاتیه ځکه ورته وایي چې حرف په ذات کې دخل لري. ممیزه ځکه ورته وایي چې یو حرف له بل حرف سره فرق کیږي. مقومه ځکه ورته وایي چې حروف صحیح او قایم ساتي.

### صفات لازمه په دوه ډوله دي

**۱: صفات لازمه متضاده** **۲: صفات لازمه غیر متضاده**

**۱ : صفات لازمه متضاده:** چې مقابل کې یي کوم صفت وي، یعني په هر حال کې پیدا کېږي. د مقابل هغه دوه صفتونه دي چې په یوه وخت کې په یوه حرف کې نه جمع کېږي. او په هر حرف کې به له دغو دوو صفتونو حتماً یو وي، یا به همس وي یا به جهر وي.

**صفات لازمه متضاده پینځه ۵ دي چې پینځه ۵ یي ضد دي نو ۱۰ لس کېږي.**

۱: همس = ۲: جهر

۳: شدت = ۴: رخوت، توسط

۵: استعلا = ۶: استفال

۷: اطباق = ۸: انفتاح

۹: ازلاق = ۱۰ اصمات

**۱ : همس:** په لغت کې سستي او ضعف ( نرم او ټیټ آواز ) ته اویي، مجموعه یې مهموسه ده. ددې حروفو آدا کولو په وخت کې آواز داسې په کمزورۍ درېږي چې ساه جاري پاتې شي، خو په آواز کې نرمي او سستي موجوده وي. مهموسه حروف لس ۱۰ دي. ( فَحَثَهُ، شَخصٌ، سَكَتَ )

**۲ : جهر:** په لغت کې اوچتوالي او قوت ته وایي. په زوره ویل چې مجموعه یې مجهوره ده. ددې حروفو د آدا کولو په وخت اواز په مخرج کې داسې په قوت سره درېږي چې د ساه جریان بند خو په آواز کې یو ډول قوت پاتې وي.

د مهموسه لسو ۱۰ حروفو څخه بغیر باقی ۱۹ حروف مجهوره دي.

عَظُمَ، وَزْنَ، قَارِئُ، ذِی، غَضٍّ، جَدَّ، طَلَبْ

**۳ : شِدَّتْ:** په لغت کې سختی او قوت ( سخت کېدل ) ته وایي، چې مجموعه یې شدیده ده. ددې حروف د آدا کولو په وخت کې آواز په مخرج کې داسې په قوت درېږي چې د آواز جریان بند شي. شدیده حروف اته دي. ( اجِدْ، قَطٍ، بَكَتْ).

**۴ : رِخْوَتْ:** په لغت کې نرمی ( نرم کېدل ) ته وایي، چې مجموعه یې رخوه ده. ددې حروفو آداکولو په وخت کې آواز د مخرج څخه په داسې نرمۍ درېږي چې آواز جاري پاتې شي. رخوه څوارلس ۱۴ حروف لره. ( خَسَّ، حَظٍّ، شَصُّ، هَزٍّ، وَصغْثُ، یَافَذْ) باقي ۵ حروف یې په توسط کې جمع کړي دي.

**توسط:** د شدت او رخوت ترمنځ منځنې حالت ته وایي. چې پنځه ۵ دي، مجموعه یې (لِن عُمر ) دي. چې متوسط حروف ورته وایي، ددې حروفو د آدا کولو په وخت کې آواز نه په نرمۍ سره جاري کېږي او نه په سختۍ سره بند پاتې کېږي.

**۵ : استعلا:** په لغت کې پورته کېدل او اوچتېدلو ته وایي، چې مجموعه یې مستعلیه ده. ددې حروفو د آدا کولو په وخت کې د ژبې جوړه همیش پورته تالو طرف ته اوچتیږي، چې دا حروف ډېر ډکېږي. حروفونه یې ۷ دي. ( خُصَّ، ضَغَطٍ، قِظْ)

**۶ : استفال:** په لغت کې وروسته پاتې کېدل یا لاندې پاتې کېدلو ته وایي، چې مجموعه یې مستفله ده. ددې حروفو د آدا کولو په وخت کې د ژبې بیخ پورته تالو ته نه جنګیږي، چې له امله یې حروف باریک پاتې کېږي. د مستعلیه څخه بغیر ۲۲ حروف مستفله دي. ( أُنْشُرْ، حَدِیْثَ، عِلْمِکَ، سَوْفَ، تُجَهَّزُ، بَذَا )

**۷ : اِطْبَاقْ:** په لغت کې سر پټول، بندول او یوځای کېدو ته وایي، مجموعه یې مطبقه ده. ددې حروفو د آدا کولو په وخت کې د ژبې منځنی برخه پاس تالو سره لګیږي ( نښلي ) چې حروف بنه ډک او غټ آدا شي.

مطبقه حروف ۴ دي. ( صَطْ، ضَظْ)

**۸: انفتاح:** په لغت کې جدا کېدل یا خلاصولو ته وایي، مجموعه یې منفتحه ده. ددې حروفو د آدا کولو په وخت کې د ژبې منځ د پاس تالو څخه جدا یا خلاص لرې پاتې کېږي. د مطبقه ۴ حروفو څخه علاوه باقي ۲۵ حروف منفتحه دي. ( مَنْ، اَخَذَ، وَجْدَ، سَعَةٍ، فَزَكَا، حَقَّ، لَه، شُرْبُ، غَيْثٍ )

**۹: ازلاق:** په لغت کې بهېدلو یا خویدل یا طرف ته وایي، مجموعه یې مزلقه ده. دا حروف د ژبې او شونډو څخه ډېر په سهولت او ژر آدا کېږي.

مزلقه حروف څلور ۴ دي. ( فَرَّ، مِنّ، لُبِّ )

**۱۰: اِصْمَات:** په لغت کې منع کول یا چپ کولو ته وایي، مجموعه یې مصمته ده. دا حروف د خپل مخرج څخه په مضبوطی او کلکوالي سره آدا کېږي، په آسانی نه آدا کېږي. مزلقه حروفو څخه علاوه باقي ۲۳ حروف مصمته دي. ( جُذْ، غَشَّ، سَاخِطٍ، صَدَّ، ثِقَةٍ، اِذْ وَعْظَه، يَحُضُّکَ )

متضاد صفات لس ۱۰ دي چې یو د بل ضد دي. په یو حرف کې له دغو لسو صفتونو څخه ۵ باید وي.

## صفات لازمه غیري متضاده

دا د حروفو هغه لازمي او ضروري صفات دي چې حروفو کې حتماً وي خو ضد نه لري. خو دا صفات ځینو کې وي او ځینو حروفو کې نه وي، شمېر یې ۷ دی.

**۱: قلقله:** په لغت کې حرکت ورکول، تمبول او ټکان ورکولو ته وایي. او به اصطلاح کې ددې حروفو د آداکولو پر وخت که حرکت ولري یا ساکن وي په مخرج کې یو ډول خوځښت او ټکان پیدا کېږي. د قلقلې پنځه ۵ حروف دي چې مجموعه یې ( قطبُ جَدّ ) دي.

## قلقله په دریو برخو وېشو

**الف: قلقله کبرى' ب: قلقله وسطى' ج: قلقله صغرى' ( ادنى' )**

**الف: قلقله کبرى' ( لویه ):** هغه قلقله ده چې قطبجد یو حرف د لغت په اخیر کې ساکن وي یا یې موږ په وقف بالاسکان سره ساکن کړو نو لویه قلقه کوو. لکه؛ لَقَدْ، بُرُوْجٌ، مُحِيطٌ...

**ب: قلقله وسطى' ( منځنى ):** هغه قلقله ده چې قطبجد یو حرف د لغت په منځ کې ساکن وي. لکه؛ نَجْعَلِ، اَدْرَاکَ...

**ج: قلقله صغرى' ، ادنى ( وړوکې قلقله ):** هغه قلقله ده چې قطب جد حرف باندې حرکات فتحه، کسره او یا ضمه راغلې وي. لکه؛ قَالَ، طَارق، دَاودُ...

**۲: صفیر:** شپیلۍ ( طوله ) ته وایي، مجمعه یې صفیریه ده. دا حروف د خپل مخرج څخه د شپیلی په شان تیز او باریک آواز سره آدا کېږي. صفیریه یا طوله دار یا شپیلۍ لرونکې ۳ حروف دي. ( ص، ز، س )

**۳: لین:** نرم کېدو ته وایي، مجموعه یې حروف لین یا لینیه ورته وایي. د آدا کولو په وخت کې دوی کې نرمي پیدا کېږي چې مد هم په وقف کې کولای شي. لین دوه حروف لري ( و، ی ) خو شرط دادی چې و او ی ساکن څخه مخکې فتحه زبر وي. لکه؛ خَوْف، صَيْف...

**۴: انحراف:** په لغت کې را ګرځېدلو یا کږېدلو ته وایي، مجموعه یې منحرف ده. ددې حروفو د آدا کولو په وخت کې د ژبې طرف یو بل ته تاوېږي ل ر ته او ر ل ته. منحرف ۲ حروف لري. ( ل، ر )

**۵: تکریر:** په لغت کې تکرار ته ویل کېږي.تکریر صفت په یو حرف کې ده چې هغه ( ر ) ده او مکرره ورته ویل کېږي. د را د آدا کولو په وخت کې یو ډول لړزه راځي.

**۶: تفشي:** په لغت کې خپرېدلو ته وايي. دا صفت يوازې په ( ش ) کې دی، چې حرف تفشي ورته وايي. د ش آواز په خوله کې خپرېږي.

**۷: استطالت:** په لغت کې اوږدولو ته وايي. دا صفت يوازې په ( ض ) کې دی چې هغې ته مستطيل حرف وايي.د ض د آدا کولو په وخت کې د ژبې د سر څخه د ژبې سر تر اخيره ( نواجذ او ضواحک ) پورې آواز اوږد پاتې کېږي ، ځکه د ض مخرج په ټولو اوږد دی.

**يادونه: د حروف مده او حرف ض تر منځ فرق:** د حروف مده اوږدوالی د هغوی په ذات او آواز کې وي، خو د حرف ض اوږدوالی د هغې په مخرج کې وي.

**غلطي:** ض حرف ځينې يې دال، ځوک يې ذال، ځوک يې زا او ځوک يې ظا په ډول آدا کوي. دا تلفظ سم نه دی.

د ټولو حروفو د صفاتو لازمو جدول، کتاب جوهر القران، صفحه ۴۸ او ۴۹.

| شمېره | حروف | موجوده صفات |
|---|---|---|
| ۱ | الف | جهر ـ رخوت ـ استفال – انفتاح – اصمات |
| ۲ | ب | جهر شدت استفال انفتاح ازلاق قلقله |
| ۳ | ت | همس شدت استفال انفتاح اصمات |
| ۴ | ث | همس رخوت استفال انفتاح اصمات |
| ۵ | ج | جهر شدت استفال انفتاح اصمات قلقله |
| ۶ | ح | همس رخوت استفال انفتاح اصمات |
| ۷ | خ | همس رخوت استعلاء انفتاح اصمات |
| ۸ | د | جهر شدت استفال انفتاح اصمات قلقله |
| ۹ | ذ | جهر رخوت استفال انفتاح اصمات |
| ۱۰ | ر | جهر توسط استفال انفتاح ازلاق انحراف تکریر |
| ۱۱ | ز | جهر رخوت استفال انفتاح اصمات صفیر |
| ۱۲ | س | همس رخوت استفال انفتاح اصمات صفیر |
| ۱۳ | ش | همس رخوت استفال انفتاح اصمات تفشي |
| ۱۴ | ص | همس رخوت استعلاء اطباق اصمات صفیر |
| ۱۵ | ض | جهر رخوت استعلاء اطباق اصمات استطالت |
| ۱۶ | ط | جهر شدت استعلاء اطباق اصمات قلقله |
| ۱۷ | ظ | جهر اخوت اصمات استفال انفتاح |
| ۱۸ | ع | جهر توسط استفال انفتاح اصمات |
| ۱۹ | غ | جهر رخوت استعلاء انفتاح اصمات |
| ۲۰ | ف | همس رخوت استفال انفتاح ازلاق |
| ۲۱ | ق | جهر شدت استعلاء انفتاح اصمات قلقله |
| ۲۲ | ک | همس شدت استفال انفتاح اصمات |
| ۲۳ | ل | جهر توسط استفال انفتاح ازلاق انحراف |
| ۲۴ | م | جهر توسط استفال انفتاح ازلاق غنه |
| ۲۵ | ن | جهر توسط استفال انفتاح ازلاق غنه |
| ۲۶ | و | جهر رخوت استفال انفتاح اصمات لین |
| ۲۷ | ه | همس رخوت استفال انفتاح اصمات |
| ۲۸ | ء | جهر شدت استفال انفتاح اصمات |
| ۲۹ | ي | جهر رخوت استفال انفتاح اصمات لین |

**مشق مع الحفظ**

**سورت الزلزال** **سورت العادیات**

**د شـــپږمـــي اونـــی پـــای**

# اوومـــه اونـــۍ

## عارضه صفات

هغه صفات دي چې کله په حروفو کې پیدا کېږي او کله نه. که صفات عارضه آدا نه شي نو حرف په خپل ځای پاتي کېږي خو ښایست يې له منځه ځي. لکه؛ عَمَّ کي چې غنه زماني آدا نشي.

عارضه صفات په ټولو حروفو کې نشته يوازې په اتو ۸ حروفو کې شته چې په لاندې ډول دي.

(ا ل ر م^ مّ ن^ نّ ء ) چې مجموعه يې يرملان ده. خو عارضه صفات په دوولس ۱۲ برخو ويشل شوي دي.

**۱: تفخيم ۲: ترقيق ۳: ادغام ۴: اقلاب ۵: اظهار ۶: اخفاء ۷: غنه زماني ۸: صله ۹: تسهيل ۱۰: ابدال ۱۱: حذف ۱۲: مد فرعي**

**يادونه:** صفات عارضه ته مزينه او محسنه ( ښايسته ) هم ويل کېږي.

**ا: تفخيم او ترقيق قواعد** ( يعنې حروف د ډکوالي او تش والي له امله په درى ډوله دي)

**۱: تفخيم:** په لغت کي ډکولو ته وايي. او په اصطلاح کې حرف دومره ډک ويل چې خوله له آوازه ډکه شي او آواز مضبوط هم وي، هغه ته مفخم حرف وايي.

**۲: ترقيق:** په لغت کې نرى او باريک کولو ته وايي. او په اصطلاح کې حرف په داسي باريکه آواز سره لوستل چې خوله پرې ډکه شي، او آواز کې کمزوري پيدا شي. هغه حرف چې باريک لوستل کېږي هغه ته ( مرقق ) حرف وايي.

**شمېر يې:** د تفخيم ۷ حروف دي چې عبارت دي له: [ غ خ، ص ض، ط ظ، ق. ] او ۳ حروف چې هم تفخيم دي او هم ترقيق عبارت دي له: ( ا ل ر ) چې مجموعه يې لس ۱۰ کېږي، له دې څخه بغير ۱۹ حروف ترقيق دي. ( ب ت ث ح ج د ذ ر ز س ش ع ف ک م ن و ه ء ی ).

هر يو يې تشريح کوو:

**يادونه:** تفخيم ( مستعليه) ۷ حروف چې په هر حالت کې مفخم يا ډک ويل، خو ډک توري د حرکاتو له امله څلور ۴ درجې لري.

### اوله درجه

چې ډک تورو سره الف مده هم وي، لکه؛ قَال...

### دو همه درجه

چې ډک توري باندې پيش وي يا مخکې وي، لکه؛ قُل...

### دريمه درجه

چې ډک توري باندې زبر يا فتحه وي، لکه؛ صَبْرِ...

## څلورمه درجه

چې ډک توري لاندې زیر کسره وي، لکه؛ قِيْلَ...

**۳: تفخیم او ترقیق:** هغه حروف دي چې کله مرقق کله مفخم ( کله تش او کله ډک ) ویل کیږي، دری حروف دي. ( ا ل ر ) الر.

### اوس هر یو ( الر ) جدا جدا تشریح کوو

**( الف) ا۔ ا کې دوه قاعدې دي.**

**۱:** که چېرته الف څخه مخکې ډک حرف وي نو مد په صورت کې الف هم ډک ویل کیږي، لکه؛ قَال، خَالد

**۲:** که چېرته الف څخه مخکې باریک حرف وي، نو د مد په صورت کې الف هم باریک ویل کیږي، لکه؛ كَان، حَاسِدٌ

**( ب ) د الله جل جلاله او الّلهم کې د ل تفخیم او ترقیق:** دلته هم دوه قاعدې شتون لري.

**۱:** که دالله جل جلاله مبارک نوم یا اللهم څخه مخکې زبر یا پیش وي نو لام به ډک ویل کیږي.

لکه؛ اِنَّ الله، هُوَالله، رَسُوْلُ الله، عَبْدُ الله، اِذْ قَالُو الَّلهُمَّ ...

**۲:** که دالله جل جلاله مبارک نوم یا اللهم څخه مخکې زیر یا کسره وي نو باریک لوستل کیږي.

لکه؛ بِسْمِ الله، يَفْتَحِ الله، بِالله، قُلِ الَّلهُمّ، سَبِيلِ الله...

**یادونه:** د الله جل جلاله مبارک نوم څخه بغیر نور ټول لامونه باریک لوستل کیږي، لکه؛ تَولَّى..

**مشق مع الحفظ**

**سورت البنة**

**د اوومـــې اونـــۍ پای**

## اتـــمـــه اونـــۍ

**( ج ): د را احکام:** په را کې قاریانو ډېرې قاعدې ذکر کړې دي، چې په ۱۲ ځایونو کې " را " ډک او په ۷ ځایونو کې “ را " تشه او په ۲ ځایونو کې جواز الامرین ده، خو زه به یې دلته د ښه پوهې لپاره یو څه اختصار سره ذکر کړم.

### را مفخم ډک لوستلو کې څلور قاعدې دي

**۱:** کله چې په را باندې یا مخکې له را څخه ( که را ساکنه وي یا مشدده ) زبر، پيش، دو زبر او دو پيش راغلي وي نو را ډکه ویل کیږي.

**۲:** کله چې را څخه مخکې عارضي زير راغلی وي ( یعني الف څخه مور. همزه جوړه کړو)، نو بیا هم را ډکه ویل کیږي، لکه؛ اِرْجع، اِرْکَبُوْ...

**۳:** کله چې را ساکنه وي خو مخکې بلې کلمې په حرف باندې زېر وي، لکه؛ مَنِ ارْتَضَ، اَمِ ارْتَابو...

**۴:** په وقف بالروم او وقف با الاشمام کې د را خپل اصلي حرکات په نظر کې نیول کیږي، که پیش وو نو ډکه او که زیر وو نو تشه ویل کیږي، ( د وقفونو درس وروسته راځي انشاءالله ).

### را ترقیق نرۍ لوستلو کې دوه قاعدې دي.

**۱:** کله چې را لاندې یا ورڅخه مخکې ( را که ساکنه وي یا مشدده ) چې زیر یا دو زیر راشي، نو تشه یا باریکه ویل کیږي، لکه؛ تَجْرِیْ، شِرْکِکُمْ، فِرْعَوْنَ...

**۲:** کله چې را باندې اماله وشي، ( مَجْرِهَا ). اماله مانا مایل کېدل یا ټیټېدل. او په اصطلاح کې الف د یا طرف ته او زبر د زیر طرف ته مایل کولو ته ویل کیږي.

**را مختلف فيه یا جواز الامرين ( ډک او تش دواړو لوستلو کې دوه قاعدې دي).**

**۱:** کله چې را ساکيني څخه مخکې زير خو وروسته مستعليه یا ډک حرف راغلی وي، لکه؛ قِرْطَاس، فِرْقَةٍ، اِرْصَادًا، مِرْصَادً، لبا لَمِرْصَاد، یوازې همدا پينځه ۵ مثالونه یې دي.

**۲:** په عينَ ٰالقِطْر او مصر لفظونو کې هم خو مفخم ویل یې اعلی دي.

**الف لام ( ا ل ) احکام: ا ل تعریف هم ورته وایي دوه قاعدې دي.**

**۱: ال شمسي          ۲: ال قمري**

**قمري حروف ۱۴ دي:** ( ء ه ع ح غ خ، ف و ب م، ج ی، ق ک )

**شمسي حروف هم ۱۴ دي:** ( ل ن ر، ت د ط، ث ذ ظ، ز س ص، ض ش)

**یادونه:** ( وَالشَّمْسِ ) لمریز توري: لمر پر مهال ستوري پټ وي، نو لام به هم پټیږي.

( وَاْلْقَمَرِ ) سپوږمیز توري: سپوږمۍ پرمهال ستوري ښکاره وي نو لام به هم ښکاره وي.

۱: ال شمسي: کله چې الف لام څخه وروسته شمسي کوم حرف راشي نو لام نه ویل کیږي، دې ته ادغام شمسي وايي، لکه؛ اَلرَّحْمن، اَلله، اَلشَّمْس...

**۲: ال قمري:** کله چې الف لام څخه وروسته قمري کوم حرف راشي نو لام به ویل کیږي، دې ته اظهار قمري وايي، لکه؛ وَالْقَمَرِ، اَلْکَوْثر...

**مشق مع الحفظ**

**سورت العلق        سورت القدر**

**د اتـــمـــي اونـــۍ پـــای**

# نـــهـــمـــه اونـــۍ

## غُنَّه

**غُنَّه:**

په لغت کې د پوزې منځنۍ برخې څخه آواز راباسل، یعنې آواز په پوزه کې جمع کول چې پټ نه شي.

**یادونه:** د ن او م د غُنې خپل حروف دي، خو د ادغام په صورت کې په وّ او یّ کې هم نیمه غُنه کېږي.

**غُنه په دوه ډوله ده**

**۱: غُنه اَنِیْ ۲: غُنه زماني**

**۱: غُنَّه اَنِیْ:** د ( ن او م ) هغه ذاتي آواز چې د ارادې پرته منځ ته راځي او یا چې کله هم ( م او ن ) باندې حرکات راغلي وي، َ ِ ُ نو غُنَّه اَنِیْ کېږي، لکه؛ وَمَا، اَنَا...

غُنَّه اَنِیْ ته اصلي، طبیعي او فطري غُنَّه هم وایي.

**۲: غُنَّه زماني:** د ( د نّ او مّ ) هغه غږ چې ځانګړې قاعدې له امله یعنې هر کله چې نّ او مّ مشدد شي نو د یو الف په اندازه یا دوو حرکاتو په اندازه په پوزه کې زمان یا وخت تېرولو ته غُنَّه زماني وایي.

**الف اندازه:** چې بنده ګوته خلاصه شي همدا یو الف اندازه ده. خو غُنَّه زماني په تحقیق تلاوت کې پوره، په تدویر کې متوسط او حدر کې کمه ویل پکار دی.

**یادونه:** غُنَّه زماني ته غیر اصلي، غیر طبیعي او غیرفطري غُنَّه هم وایي.

د ن^ ساکن او تنوین ً ٍ ٌ (پټ نون) احکام: څلور تعریفه پکې دي.

**۱: اخفاء اصلي ۲: اظهار اصلي ۳: ادغام ۴: اقلاب**

په دې اونۍ کې دوه تعریفونه لولو، خو لومړی باید د ن^ ساکن او ن تنوین فرق پیدا کړو.

**۱: فرق:** ن^ ساکن ښکاره لیکل شوی وي، لکه؛ عَنْ، اَمَنْ... بغیر له دوو کلیمو څخه، نَسْفَعًا = نَسْفَعَنْ، وَلَیَکُونًا = لَیَکُوْنَنْ دي.

خو ن تنوین نه لیکل کېږي، بلکې پرځای یې ً دو زبر، ٍ دو زیر او ٌ دو پیش لیکل کېږي، چې حقیقت کې ن په تنوین کې پټ ده، چې ولیکل شي او وویل شي بیا ښکاره کېږي، لکه؛ مً = میم دو زبر مَنْ – اخیر کې ن^ ساکن شته.

لکه؛ اَحَدٌ، قُرَیْشٍ، خو یوه کلیمه ترې مستثنی ده. وَکَاَیِّنْ اصل کې داسې ده وَکَاَیٍّ.

**۲: فرق:** ن^ ساکن وقفًا او وصلاً دواړه ویل کېږي، لکه؛ وَمَنْ، سَأُنْزِلَ... خو ن تنوین یوازې وصلاً ویل کېږي وقفًا نه ویل کېږي. لکه؛ اَحَدٌ، کُلٌ...

**۳: فرق:** ساکن ن^ په اسم – فعل او حرف کې راځي، لکه؛ اَلْاَنْصَارُ، یَنْصُرُونَ، مِنْ... خو ن تنوین فقط په اسم کې راځي، لکه؛ عَذَابٌ...

**۴ فرق:** ساکن ن^ د کلیمي په منځ او اخیر کې راځي، لکه؛ عِنْدَ، كُنْ... خو ن تنوین یوازې د کلیمې په اخیر کې راځي، لکه؛ كُفُوًا، نَارًا...

## ۲ : اظهار

اظهار په دوه ډوله دی

**۱ : اظهار اصلي** **۲ : اظهار مطلق**

### ۱: اظهار اصلي

په لغت کې ښکاره کولو، واضح کولو ته وایي. او په اصطلاح کې هر کله چې د ن^ ساکن او ن تنوین څخه وروسته د حلقي ۶ حروفو څخه یو حرف راشي نو ن^ ساکن به په خپل مخرج کې د خپلو ټولو صفاتو سره بې له غُنّې زر او واضح ویل کېږي، لکه؛ عَنْهُ، وَانْحَرْ، مِنْ اَحَدٍ، حَكِيمٍ عَلِيم... دې ته اظهار حلقي هم وایي.

**د حلقي اظهار درجې:** درې درجې لري. **۱: اعلی ( ء ه )** **۲: متوسط ( ع ح )** **۳: ادنی ( غ خ )**

**وضاحت: د** حروف حلقي مخرج چې د ن مخرج څخه څومره لرې وي نو په همغه اندازه به اعلیٰ قسم اظهار وي.

### ۲: اظهار مطلق

هر کله چې ن^ ساکن څخه وروسته د يَرَمَلُوَنَ څخه کوم حرف راشي خو چې په یوه کلیمه کې سره یوځای نه وي نو اظهار مطلق کېږي، ( ځانګړې قاعده نه لري، په ټول قرانکریم کې د اظهار مطلق څلور مثاله دي) لکه؛ دُنْيَا، قِنْوَانٌ، صِوانٌ، بُنْيَانٌ.

### ۳: تعریف: ادغام

ادغام په لغت کې مدغم کول، یوځای کول او سره ګډولو ته وایي. او په اصطلاح کې هر کله چې د ن^ ساکن او ن تنوین څخه وروسته ( يَرّمَلّوَنّ ) یو حرف راشي نو ادغام کېږي. یعني مدغم په مدغم فِیه کې په داسې ډول یوځای کول چې دواړه په یو ځای مشدد آدا شي. خو چې مدغم او مدغم فیه په کلیمه کې نه وي، یعني مدغم به د یوې کلیمې په اخیر او مدغم فیه به د بلې کلیمې په سر کې وي .

ادغام په درې ۳ ډوله دی

**۱ : ادغام مع الغُنَّه پوره:** په مّ او نّ کې لکه؛ مِن مَّطَرٍ، لَيْلَةٍ مبارَكَةٍ، مِنْ نُّوْرٍ...

**۲ : ادغام مع الغُنّه نیمه:** په یّ او وّ کې لکه؛ مَنْ يَّقُوْلُ، مِنْ وَّاقٍ، سِرَاجًا وَّ هَبْ...

**۳ : ادغام بِلا غُنَّه، هیڅ:** په لّ او رّ کې لکه؛ مِنْ رَّسُوْل، مِنْ لَّدُنْهُ، مَالًا لُّبَدًا...

**یادونه:** پاتې ډولونه به یې په بله اونۍ کې ذکر شي.

**مشق مع الحفظ**

**سورت التين**

**د نـــهـــمـــې اونـــۍ پـــای**

# لـــســمـــه اونـــۍ

## ۳: اقـــلاب

اقلاب په لغت کې بدلون او تغیر ته وایي. او په اصطلاح کې د ن^ ساکن او ن تنوین څخه وروسته د اقلاب توری " ب " راشي نو ن^ ساکن او تنوین په کوچني م بدلیږي او اخفاء شفوي هم کیږي، غُنَّه او اخفاء به دواړه کوو. لکه؛ تُنْۢبِتُ، مِنْۢ بَعْدِ، اَلِیْمٌۢ بِمَا...

**یادونه:** اخفاء شفوي به وروسته راشي.

## ۴: څلورم تعریف: اخفاء

اخفاء په دوه ډوله ده

**۱: اخفاء اصلي یا حقیقي په ن^ ساکن کې ده. ۲: اخفاء شفوي په م^ ساکن کې ده.**

## موږ اخفاء اصلي تعریفوو

اخفاء په لغت کې د ن^ ساکن او تنوین آواز د پوزې په خیشوم کې پټولو ته وایي. او په اصطلاح کې هرکله چې د ن^ او ن تنوین څخه وروسته د ۱۵ اخفاء حروفو څخه یو حرف راشي نو اخفاء اصلي کیږي. اخفاء حقیقي د اظهار په خلاف ویل کیږي، د ن^ ساکن مخرج پټیږي.

د اخفاء حروف دا دي: ( ت ث ج د ذ ز س ش ص ض ط ظ ف ق ک )

مثالونه: کُنْتُمْ، اُنْثَیٰ، اَنْدَادًا، مُنْذِرٌ، یَوْمً تُرْجَعُوْن، دَکًّا دَکًّا...

اخفاء کې هم درې ۳ درجې دي. ۱: اعلیٰ ۲: متوسط. ۳: ادنیٰ

**۱: حروف نطعیه** ( ت د ط ) کې اعلیٰ درجه اخفاء کیږي.

**۲: حروف لثویه** ( ث ذ ظ ) حروف صفیریه ( ز س ص ) ش، ض، او ف کې متوسط درجه اخفاء کیږي.

**۳: حروف لهاتیه** (ق ک ) کې ادنیٰ درجه اخفاء کیږي.

**حفظ مع المشق**

**سورت الانشراح**

**د لـــســمـــې اونـــۍ پـــای**

# یــوولــســمــه اونـــۍ

## د م^ ساکن احکام

**درې تعریف لري. ۱: اخفاء شفوي. ۲: ادغام شفوي. ۳: اظهار شفوي**

### ۱: اخفاء شفوي ( شونډو اخفاء )

په لغت کې آواز په شونډو کې پټول. او په اصطلاح کې هر کله چې د م^ ساکن څخه وروسته د اقلاب توری " ب " راشي، نو اخفاء شفوي کېږي.

**یعني:** م د آدا کولو پر مهال د شونډو وچې برخې په نرمۍ سره یوځای کول او بیا د غُنَي په ډول آواز کول او د شونډو لندې برخې په سختۍ سره یوځای کول او " ب" آدا کول. لکه؛ بَيْنَهُمْ بِالْحَقَّ، تَرْ مِيهِمْ بِحِجَّارةِ...

### ۲: ادغام شفوي

هر کله چې م^ ساکن څخه وروسته بل مّ مشدد راشي نو ادغام کېږي، دې ادغام ته ادغام مثلین صغیر ویل کېږي، او غُنَّه زماني هم کېږي. لکه؛ أُخْرِجِكُمْ مِّنْ، لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ، اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُون...

### ۳: اظهار شفوي

په شونډو کې آواز ظاهرولو ته وایي. هر کله چې د م^ ساکن څخه وروسته ب او م څخه بغیر بل کوم حرف راشي نو اظهار شفوي کېږي. لکه؛ اَلْحَمْدُ، اَنْعَمْتَ...

**حفظ مع المشق**

**سورت الضحی'**

**خـــتـــم**

**د یــوولــســمــې اونـــۍ پـــای**

# دولـــســمـــه اونۍ

## د ادغام پاتې ډولونه

ادغام په دوه ډوله دی

**۱: ادغام کبیر. ۲: ادغام صغیر**

**ادغام شرط:** لومړی حرف به ساکن او دویم حرف به متحرک مشدد وي، چې لومړي حرف ته مدغم او دویم حرف ته مدغم فیه ویل کېږي. لکه؛ اِذْ ذَّهَبَ...

### ۱: ادغام کبیر

چې دواړه حروف ( مدغم او مدغم فیه ) متحرک وي یعني حرکات ولري، نو یو ساکن کوو او په مدغم فیه کې یې ورګډوو یا ننباسو، یو حرف ترې جوړوو یعني شد پرې راولو. چې د لومړي حرف شکل هم نه پاتې کېږي، د امام حفص رح په روایت کې د ادغام کبیر یوازې پینځه کلمات دي.

۱: نِعِمَّا ____ اصل کې نِعْمَ مَا ۲: مَکَّنِّیْ____ اصل کې مَکَّنَنِیْ ۳: لَا تَأْمَنَّا____ اصل کې لَاتَأْمَنْنَا

۴: تَأْمُرُوْنِّیْ ____ اصل کې تَأْ مُرُوْنَنِیْ ۵: اَتُحَاجُّوْنِّیْ ____ اَتُحَاجُّوْنَنِیْ

### ۲: ادغام صغیر

چې لومړی حرف مدغم ساکن او دویم حرف مدغم فیه متحرک مشدد وي نو مدغم په مدغم فیه کې داخیلوو، دې ته ادغام صغیر وایي. ادغام کبیر څخه علاوه نور ټول ادغام صغیر دي چې موږ یې دلته پینځه ډوله پېژنو.

ادغام صغیر په پینځه ډوله دی

**۱: ادغام مثلین تام. ۲: ادغام متجانسین تام ۳: ادغام متجانسین ناقص ۴: ادغام متقاربین تام ۵: ادغام متقاربین ناقص**

### ۱: ادغام مثلین تام

هغه ده چې مدغم او مدغم فیه یو حرف وي، یعني مخرج او صفت یې یو وي، نو لومړی حرف مدغم مکمل ډول ختمیږي هیڅ صفت یې باقي نه پاتې کېږي. ادغام مثلین همیشه تام وي، ناقص نه راځي.

لکه؛ اِذْ هَبْ بِّکِتٰبِی، قَدْ دَّخَلُوْ، اِذ ذَهَبَ، تستطع عَّلَیْهِ صبرا، یُدْرِکْکُّمْ، مِنْ نَّارٍ، اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ...

### ۲: ادغام متجانسین تام

کله چې دوه بیلابېل حروف چې مخرج یې یو وي خو صفات یې بدل وي، نو مدغم په مدغم فیه کې داسې یوځای شي چې د لومړي ساکن حرف کوم صفت باقي پاتې نه شي.

د متجانسین تام یوازې شپږ مثاله دي، په لاندې شپږو حروفو کې ښودل شوي دي.

۱: فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ، ۲: اُجِیْبَتْ دَّعْوَتُکُمَا، ۳: اِذْظَلَمْتُمْ، ۴: یَلْهَثْ ذّٰلِکَ، ۵: وَجَدْتُّمُوْهُمْ، ۶: اِرْکَبْ مَّعَنَا

## ۳: ادغام متجانسین ناقص

کله چې دوه بیلا بېل حروف چې مخرج یې یو خو صفات یې بدل وي، نو مدغم په مدغم فیه کې داسې یوځای شي چې د لومړي حرف ځیني صفات باقي پاتې او مکمل ختم نشي. نوموړی ادغام یوازې په ( ط ) کې ده چې ټول قانکریم کې یې څلور مثالونه دي. لکه؛ ۱: بَسَطْتَّ، ۲: مَا فَرَّطْتُّ، ۳: اَحَطْتُّ، ۴: مَا فَرَّطْتُّمْ

## ۴: ادغام متقاربین تام

هغه ده چې دوه بیلابېل حروف چې هم یې مخرج جدا وي او هم یې صفات، په خپل منځ کې مدغم او مدغم فیه سره یوځای شي او لومړي حرف کوم صفت باقي پاتې نشي نو تام دی. متقارب مانا سره نږدې.

لکه؛ منْ لَّدُنْهُ: ن^ ساکن مکمل له منځه ځي او نه ویل کېږي.

مِنْ رَّبِّهِمْ، قُلْ رَّبِّیْ، مَنْ رَّحِمَ، مِنْ لَّدُنْهُ، بَل رَّبُّکُمْ...

## ۵: ادغام متقاربین ناقص

هغه دی چې دوه بیلا بېل حروف چې هم یې مخرج جدا او هم یې صفات جدا وي، په خپل منځ کې داسې سره یوځای شي چې د مدغم یعني لومړي ساکن حرف یو څه صفات باقي پاتې شي، او نیمګړی آدا شي خو مدغم فیه حرف پوره آدا شي. لکه؛ اَلَمْ نَخْلُقْکُّمْ: دلته د ک مدغم فیه ده. ق کمه اندازه ویل کېږي.

خو امام حفص رحمه الله دلته ادغام تام او ادغام ناقص دواړه روا بولي. ( والله اعلم )

نور مثالونه یې؛ مِنْ وَّجْدِکُمْ، مَنْ یَّقُوْل، مِن وَّاقَ، اَنَ یُّسْجَنَ، مِنْ مِّثْلِهِ...

**یادونه:** ادغام د کیفیت او سبب له اړخه:

### ادغام د کیفیت په اعتبار په دوه ډوله دی

**۱: تام** **۲: ناقص**

**۱: ادغام تام:** چې د لومړي حرف مدغم هیڅ کوم صفت باقي پاتې نشي او ختم شي. لکه؛ مِنْ لَّدُنْهُ...

**۲: ادغام ناقص:** چې د لومړي حرف مدغم څو صفات باقي پاتې شي او مکمل ختم نشي. لکه؛ مِنْ وَّالَ...

### ادغام د سبب په اعتبار په درې ډوله دی

**ا: ادغام مثلین ( هم شکل )** **۲: ادغام متجانسین ( همجنس )** **۳: ادغام متقاربین ( سره نږدې )**

نوموړي تعریفونه پورته تشریح شوي دي. ( جزاک الله )

**حفظ مع المشق**

**سورت الیل**

**د دولـسـمـې اونــۍ پـــای**

# د یــارلــســمــه اونــۍ

## د مد بیان

مدونه

مد په لغت کې کش کولو، اوږدولو ته وايي، یعني په حروف مده او لین باندې غږ اوږدول. او په اصطلاح کې مد په دوه ډوله ده. **۱: اصلي مد. ۲: فرعي مد**

### ۱: اصلي مدونه

پینځه ۵ دانې دي چې د خپل ذاتي او اصلي مقدار مطابق اوږدیږي، چې بغیر له کوم سبب څخه واقع وي. لکه؛ بَا، بُوْ، بِيْ، توْ، تيْ...

اصلي مدونه پینځه دي. چې درې مده حروف دي او دوه لین حروف چې مده حروف د لین حروفو په نسبت ډېر اوږدیږي، کش کیږي. یعني یو الف یا دو حرکاتو په اندازه، خو لین حروف د نیم الف اندازه لنډ او نرم ویل کیږي.

### مده حروف درې دي

**۱: الف مده:** لکه؛ تَا: یو الف په انداز پورته کش کیږي.

**الف:** هر کله چې الف څخه مخکې فتحه زبر راغلي وي. الف مده

**۲: واو مده:** لکه؛ تُوْ: یو الف اندازه سیده کش کیږي، تاو شکل.

**واو:** هر کله چې و^ ساکن څخه مخکې ضمه پیش راغلی وي. واو مده

**۳: یا یې مده:** لکه؛ تِيْ: یو الف اندازه لاندې کش کیږي.

**ی:** هر کله چې ی^ ساکن څخه مخکې کسره، زیر راغلي وي. یا یې مده

### لین حروف دوه دي

**۱: واو لین:** لکه؛ تَوْ: نیم الف اندازه ــ هر کله چې واو ساکن څخه مخکې فتحه راشي.

**۲: یا یې لین:** لکه؛ تَيْ: نیم الف اندازه ـــ هر کله چې ی ساکنې څخه مخکې فتحه راشي.

**اصلي مد مقدار:** قصر ده، د دوه حرکاتو په اندازه.

**یادونه:** اصلي مدونو ته طبیعي مدونه هم ویل کیږي. ( ددې تشریه به راتلونکي اونــۍ کې وي)

### ۲: فرعي مد، مدونه

هغه دي چې د خپل اصلي حالت څخه زیات اوږدیږي، خو چې حرف مده څخه وروسته د مد سبب او محل دواړه راغلي وي.

### مد فرعي څلور ډوله مشهور دي

**۱: مد منفصل یا جائز.    ۲: مد متصل یا واجب.   ۳: مد لازم یا ضروري.    ۴: مد عارض یا وقفي**

د دغو مدونو تشریح به آینده درس کې وړاندې شي. ( انشاءالله)

**د مد مقدار:** د اصلي مد مقدار قصر ده یعني دوه حرکت یا یو الف اندازه

مد فرعي درې مقداره ده

**۱: طُول:** د پنځه یا شپږ د حرکتونو په اندازه چې دوه نیم یا درې الف اندازه کېږي.

**۲: توسط:** د څلورو حرکاتو په اندازه چې دوه الف اندازه کېږي.

**۳: قصر:** د دوو حرکتونو یا یو الف اندازه.

**یادونه:** حرکات زبر، زیر او پیش ته وایی. بَ ِ ُ نو دوه حرکات یو الف کېږي.

د فرعي مد اسباب څلور دي

**۱: همزه   ۲: سکون اصلي   ۳: سکون عارضي  ۴: شد**

**حفظ مع المشق**

**سورت الشمس**

